

پښتو

# د میلاد شریف عاشق بادشاه

پیش کش: مجلس المدینة العلمیة (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامي سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ اِنْ شَآءَاللّٰه څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج ۱ ص ۴۰ دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالب غم
مدینہ بقیع
ومغفرت

د رسالے نوم: د ميلاد شريف عاشق بادشاه

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچئ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# د مِيلاد شريف عاشق بادشاه

د دعوتِ اسلامي مجلِس اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة دا رِساله ”عاشقِ ميلاد بادشاه“ په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اوموميئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چې مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلِسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د میلاد شریف عاشق بادشاه

**دُعائے عطّار:** یا ربّ مصطفٰی ! چې څوك هم دا رساله "**د میلاد شریف عاشق بادشاه**" اولولي یا ئې واوري هغه او د هغه آل د دولسمې والا آخري پیغمبر صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جَشنِ وِلادت په برکت بے حسابه اوبخښې. اٰمِین بِجَاهِ النّبِيِّ الاَمِین صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لمونځ نه پس حَمد و ثناء او درود شریف لوستونکي ته اوفرمائیل: " دُعا اوغواره، قبوله به کړے شي، سوال اوکړه، در به کړے شي." (نسائي شریف ص۲ حدیث)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## عقلونه حیرانوونکي واقعه

**حضرت** سیدنا علّامه ابن حجر مکّي شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه د نِعمةُ الْکُبریٰ په صفحه نمبر 52 کښې د وِلادَت مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په باره کښې یوه د ایمان نه ډکه واقعه ذکر کړې ده، فرمائي چې یو سړے چې د هغه

نوم "**عامر یمنی**" وو، د هغه یوه لور وه چې په دردِ قولنج (یعني د غټې کلُمې درد) او جذام (یعني سپین داغونه) وغیره مرضونو کښې اخته وه او د ګرځېدلو نه هم معذوره وه، د عامر سره یو بُت وو هغه به خپله لور د بُت مخې ته کښېنوله او بُت ته به ئې وئیل: " که ته شفا ورکولے شې نو زما لور له شفا ورکړه." کلونو پورې هغه دغه شان وئیل خو بُت، بُت وو، د کانړي نه جوړ بُت څه ورکولے شي! د [**اللّٰہ** پاک له طرفه] د مهربانۍ او هدایت وخت راغلو او یوه ورځ عامر خپلې بي بي ته اووئیل: مونږ به تر کومې پورې د دې ږوند ګونګ کانړي عبادت کوو، چې نه خبرې کوي او نه اوریدل کولے شي، زه دا نه ګنړم چې مونږه په "صحیح دین" یُو. بي بي ورته اُووئیل: صحیح ده، مونږ ځان سره کړه او د هدایت په تلاش کښې اُوځه، کیدے شي چې مونږ ته د حق رهنمائي نصیب شي. دواړه ښځه او خاوند د کور په کوټه د پاسه ناست وو او دا خبرے ئې کولې ناڅاپه هغوئي اولیدل چې یو نُور دے او په ټول آسمان خور دے او د هغې په رنړا ټوله دنیا روښانه ده! اللّٰه تعالٰی د هغوئي د سترګو نه د ظُلمت (یعني د تِیارے) پردے لرې کړې چې د غفلت د خوب نه رابیدار شي، څه ګوري چې فرښتے د یو کور نه ګیر چاپیره په صف کښې ولاړې دي، غرونه په سجده دي، زمکه بے حرکته ولاړه ده او ونې راښکته شوي دي او یو ویوونکے وائي "**مبارك شئ! ریښتونے او آخري نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **پیدا شوے دے.**"

مبارک ہو کہ ختم المرسلیں تشریف لے آئے
جنابِ رحمۃ للعلمیں تشریف لے آئے

**عامر** چي خپل بُت ته اوکتل نو هغه پړمخ په زمکه ذليله او خوار پروت وو! د عامر ښځې اووئيل: لږ دې بُت ته خو اوګوره ! څنګه پړمخ په زمکه پروت دے! دا اوريدل وو چې بُت په خبرو شو: "**خبردار شئ!** لوئ خبر ظاهر شوے دے، هغه پاك ذات [آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] پيدا شوے دے چې کائنات به د هغه نه برکت او شَرف اخلي، خبردار اوسئ! هغه آخري پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د هغوئي د راتللو انتظار هر چا لرلو، چا سره به چې ونې او کاڼړي خبرې کوي، هغه پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د هغوئي په اشاره به سپوږمئ دوه ټکړے شي، هغه چې د قبيله ربيعه او مُضَر سردار به وي ظاهر شوے دے. عامر چې دا واوريدل نو خپلې ښځې ته ئې اووئيل: ته دا اورې چې دا کاڼړے څه وائي! ښځې ورته اووئيل: د ده نه تپوس اوکړه چې د هغه سعادت مند نوم څه دے؟ چې د هغوئي په نور الله تعالیٰ ټوله دنيا روښانه کړې ده؟ عامر اووئيل: اے د غيب له طرفه راتلونکي آوازه! دې کاڼړي صرف نن خبرې اوکړې، دا راته اووايه! د هغه نوم څه دے؟ جواب اوشو: **د هغه نوم مبارك محمد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **دے چې هغه د صاحِبِ زم زم او [صاحِب] صفا (يعني د حضرت سيدنا اسماعيل** عَلَيْهِ السَّلَام**) په اولاد کښې دے د هغوئي زمکه "تهامه" ده د هغوئي د اوګو په مينځ کښې "مُهرِ نبوّت" دے، چې کله هغوئي ګرځي نو**

**وريځ به په هغوئي سورے کوي.** (نه نه بلکه وريځ به د هغوئي نه سورے حاصلوي)

**په دې** کښې د عامر لور چې لاندې بے خبره اوده وه په خپلو ښپو بره چت ته راغله، عامر په حيرانتيا کښې اووئيل: اے زما لورې! ستا هغه تکليف څه شو چې ته پکښې اخته وے او کوم [تکليف] چې ستا ژوند مشکل کړې وو؟ لور جواب ورکړو: بابا جانه! زه د دنيا نه بے خبره اوده ووم چې ما خپلې مخې ته د نور يوه رنړا اوليده، زما مخې ته يو بزرګ تشريف راوړو، ما ترينه تپوس اوکړو: دا رنړا د څه ده؟ چې زه ئې وينم او دا څوك بزرګ دے؟ چې د دوئي د مبارکو غاښونو نُور په ما باندې راخور دے؟ جواب راغے: دا د عدنان د ځوي نُور دے (حضرت عدنان د رسولِ پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نيکونو کښې يو بزرګ دے) چې د هغوئي له وجُوده ټول کائنات نوراني شو، د هغوئي نوم مبارك **احمد و محمّد** دے، فرمانبردارو باندې به رحم کوي او خطاکار به معاف کوي، ما تپوس اوکړو: د هغوئي دين څه دے؟ جواب ئې راکړو: هغوئي په "دينِ حنيف" (يعني په ريښتوني دين) دے. ما تپوس اوکړو: هغوئي د چا عبادت کوي؟ جواب راکړے شو: د **اللهُ وَحۡدَهٗ لَا شَرِيۡك** يعني د الله پاك چې هغه يو دے او د هغه هيڅ څوك شريك نشته. ما تپوس اوکړو: تاسو څوك ئې؟ جواب راکړے شو: زه د هغه فرښتو نه يم چا ته چې د نورِ محمّدي اوچتولو شرف حاصل شوے دے. ما عرض اوکړو: آيا تاسو زما دا تکليف نه وينئ؟ فرښتے اوفرمائيل: ولے نه! ته د نبي **اَحمد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله دعا اوکړه. الله پاك فرمائيلي دي: ما

د خپل حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذات كښې خپل راز او دليل ايښودے دے، چې څوك هم زما نه زما د حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله دعا غواړي زه به د هغه مشكل حل كووم.[1] او چا چې زما نافرماني كړې ده د هغوئي د پاره به زه خپل حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ورځ د قيامت شفيع (يعني شفاعت كوونكے) جوړوم. هغه ماشومه وائي چې ما څنګه دا واوريدل نو دواړه لاسونه مې خواره كړل او د زړه د اِخلاصه مې د الله پاك نه دعا اوغوښتله او بيا مې خپل لاسونه په خپل مخ او وجود باندې راښكل، چې كله د خوب نه رابيداره شوم نو داسې ووم لكه څنګه چې تاسو ما وينئ. عامر يمني چې دا واوريدل نو خپلې ښځې ته ئې اوونيل: بيشكه مونږه د دې (مباركې هستئ) عجيبه نښې اُوليدلې، زه به د هغوئي د محبت او د ديدار په شوق كښې په ځنګلو او سختو كندوونو كښې سفر كووم. چنانچه عامر يمني او د هغه د كور ټول كسان د خوږ پيغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تلاش كښې اووتل او مكے مُعَظَّمے ته ئې د تللو اراده اوكړه، مكے مُعَظَّمے ته چې اورسيدل نو د بي بي آمنه رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهَا د كور مبارك تپوس ئې اوكړو او دروازه ئې اوډبوله بي بي آمنه رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهَا ترينه د راتللو د مقصد

[1] مونږه هم د الله پاک نه دُعا غواړو: يا الله! زمونږه اِيمان سلامت لرې، اے الله د بدې خاتمے نه مو اُوساتې، اے الله! د ګناهونو د بيمارو نه شِفا راكړې، اے الله! د ظاهري او باطني مرضونو نه شِفا را عطا كړې، اے پروردګاره! زمونږ نه هميشه هميشه راضي شې، د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جشنِ ولادت په بركت مونږ ته په جنتُ الفردوس كښے د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ را نصيب كړې، اے الله! د ټول اُمَّت بخښنه اوفرمائے. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

پوښتنه اوکړه: هغوئي عرض اوکړو: په مونږه خپل د سترګو تور او د زړه ټکور د نُوراني مخ مبارک ديدار اوکړئ د چا په برکت چې الله پاك دا ټول کائنات روښانه کړل. حضرت بي بي آمنه ورته اوفرمائيل: زه اوس تاسو ته خپل خوږ فرزند نه شم ښودلے ځکه چې زه د يهوديانو نه ويره لرم چې چرې هغوئي ته نقصان اُو نه رسوي او زه تاسو نه پيژنم چې تاسو څوك ئې او د کوم ځائے نه راغلي ئې؟ عامر او د هغه د کور کسانو ورته اووئيل چې: مونږ خو د هُم دې آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په محبّت کښې خپل وطن او دين (يعني خپل باطل دين) پريښودے دے چې د دې نُوراني پيغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ديدار خپلې سترګې روښانه کړو، د چا دربار ته حاضريدونکي چې به هيڅ کله هم ناکامه او نامراده بيرته نه ځي. بي بي آمنه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا چې دا خبرې واوريدلې نو اوئې فرمائيل: صحيح ده چې زما د خوږ ځوئ د ديدار نه بغير ستاسو ګزاره نه کيږي نو لږ صبر اوکړئ. دا ئې اوفرمائيل او خپل عاليشان کور ته ئې تشريف يوړلو، لږ ساعت پس ئې ارشاد اوفرمائيلو: دننه راشئ. چې اجازت ملاو شو نو هغوئي هغه عاليشانه کوټے ته داخل شو کوم ځائے کښې چې د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آرام فرما وو، هلته په انوارو او تجلّياتو کښې داسې ورك شو چې د دنيا او په دنيا کښې چې څه دي د هغه هر څيز نه بے خبره شو، بے اختياره ئې د الله پاك ذِکر شروع کړو، چې څنګه د نُوراني مخ مبارك نه پرده لرې شوه نو د ديدار کولو سره سمدستي هغوئي په چغو چغو اوژړل، دومره ئې اوژړل چې په سلګو شو، نزدې وه چې د هغوئي د بدنونو نه ساه

ختلے وے. ورمخکښې شولو او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واړه واړه مبارك لاسونه ئې ښكل كړل. حضرت بي بي آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا ورته اوفرمائيل: اوس زر زر بيرته لاړ شئ، آخر په نه زړه عامر يمني په خپل زړه لاس كيښودو او باهر اووتلو. د عامر يمني حال بدل شوے وو، هغه په هغه نوراني مخ مبارك عاشق شوے وو، د ډيرې ديوانګئ په حالت كښې ئې چغې كړې چې: ما د بي بي آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا كور ته بيرته بوځئ او عرض ورته اوكړئ چې ما ته بيا د ديدار كولو شرف راكړي. د آمنه بي بي كور ته بيرته ورغلو (دا ځل) چې عامر يمني حضور پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليدلو نو سمدستي ورمخكښې شولو او په قدمونو مباركو كښې ئې راپريوتلو او د خُلې نه ئې يوه تيزه چغه اوختله او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وړو وړو قدمونو مباركو قُربان شولو- (نعمت کبریٰ، ص۴)

امجد کا دل مٹھی میں لے کر سوتے ہو کیا انجان !
ننھے قدموں میں سر کو رکھ کر ہو جاؤں قربان مدنی
اَللّٰه اَللّٰه هُو، لَا اِلٰهَ اِلَّا هُو
اَللّٰه اَللّٰه هُو، لَا اِلٰهَ اِلَّا هُو

## مَولِدُ النّبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په كوم مبارك كور كښې چې د الله كريم خوږ آخري پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيدا شوے وو، د اسلام په تاريخ كښې هغه مقام ته "مَولِدُ النّبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم"، (يعني د نبي د

پيدائش ځائے) وائي. دا ډير بابركته مقام دے. علّامه قُطبُ الدِّين رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائی: د حضورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت په مقام دعا ګاني قبليږي. (بلد الامين، ص۲)

د خليفه هارون رشيد رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه مور هلته يو جمات جوړ کړے وو، هغه جمات ډير ځله تعمير کړے شو، او دا يو انتهائی ښکلے جمات وو چې په اکثرو حصّو باندې ئې د سرو زرو کار شوے وو. (جامع الآثار، مطلب فِی مکان مَوۡلِدُ النَّبي، ۲/۷۵۱ تا ۷۵۲ ملتقطاً)

## بابركته مقام

علّامه ابوالحُسين محمّد بن احمد جبير اَندَلُسِي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د دغه عاليشان کور په تذکره کښې (د خپل وخت په حساب سره) ليکي: هغه مبارك ځائے کوم ځائے کښې چې د الله پاك خوږ پيغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيدا شوے وو، په هغه برکتي ځائے باندې د سپينو زرو کاريګري شوي وه (هغه ځائے داسې ښکاري) لکه چې د اوبو وړوکے شان تالاب وي او د هغې سطح د سپينو زرو وي. دا مبارك کور د رَبِيعُ الۡاَوَّل په مياشت کښې د ګل په ورځ بيرته کيږي ځکه چې رَبِيعُ الۡاَوَّل د حضور عَلَيۡهِ السَّلَام د ولادت مياشت ده او ګل د ولادت ورځ ده، خلق د برکت حاصلولو د پاره دې کور ته داخليږي. په مکه مکرّمه کښې دا ورځ هميشه د پاره ”**يومِ مَشۡهُود**“ ده يعنې په دې ورځ خلق راجمع کيږي. (تذکرة بالاخبار عن اتفاقات الاسفار ۷۳ ملتقطا)

د الله پاك په بارګاه كښې امیر اهلسنّت حضرت علّامه مولانا محمّد الیاس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُـهُمُ الۡعَالِيَـهۡ عرض كوي:

| | | |
|---|---|---|
| مکے میں ان کی جائے ولادت پہ یاخدا | | پھر چشمِ اشکبار جمانا نصیب ہو |

## د ولادت په كور كښې د حاضرۍ سعادت

افسوس! افسوس! اوس دا ټول معمولات موقوف شوي دي او نن صبا په هغه مكان كښې يوه لائبريري جوړه شوي ده او د "مَكۡتَبَةُ مَكَّةِ الۡمُكَرَّمَة" بورډ پرې لګیدلے دے. دې مكانِ عالیشان ته د رسیدلو آسانه طريقه دا ده چې تاسو كوهِ مَروه ته نزدې چې په كومه دروازه هم بهر ته راشئ. مخامخ د لُمونځ كوونكو د پاره يوه لويه اِحاطه جوړه شوي ده، د هغې نه اخوا طرف ته دغه عالیشان مكان موجود دے، اِنۡ شَآءَالله د لرې نه به درته ښكاره شي- (عاشقانِ رسول کی حکایات ص۲۵۲)

## د ميلاد شريف باقاعده شروع كوونكے بادشاه

اےعاشقانِ رسول! "د ټولو نه مخكښې د مروّجه ميلاد شريف شروع كوونكے بادشاه ابو سعيد مظفر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دے. د هغوئي په فرمائش باندې اِبنِ دِحيه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د ميلاد شريف په موضوع باندې يو كتاب د "اَلتَّنۡوِيۡرُ بِمَوۡلِدِ الۡبَشِيۡرِ وَالنَّذِيۡر" په نوم اوليكلو. په دې باندې ابو سعيد

مظفر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اِبنِ دِحیه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د سرو زرو زر اشرفئ په انعام کښې ورکړې. (جواهرالبحار، اردو ۸٤)

سُبْحٰنَ الله! څومره پاکیزه دور وو او څنګه قدردان عاشقانِ رسول خلق وو چې د مولود شریف په موضوع کتاب لیکلو باندې ئې دومره لوئ انعام ورکړو. د دې نه دا هم معلومه شوه چې پخوانو بزرګانو به په خپله طریقه باندې په جوش او جذبه میلاد شریف کولو.

منانا جشنِ میلادالنبی ہر گز نہ چھوڑیں گے
جلوسِ پاک میں جانا کبھی ہر گز نہ چھوڑیں گے

لگاتے جائیں گے ہم یا رسول اللہ کے نعرے
مچانا مرحبا کی دھوم بھی ہر گز نہ چھوڑیں گے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مدینه منوّره کښې د میلاد عظیم الشّانه اجتماع

**حضرت** سیدنا شیخ علي بن موسٰی مدیني مالکي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په مسجد نبوي شریف کښې به د یوے زمانے پورې د دولسم رَبِيعُ الْاَوَّل په ورځ عظیم الشّانه اجتماعِ میلاد کیدله، چې په هغې کښې به لویو لویو امامانو تقریرونه کول. په دولسم رَبِيعُ الْاَوَّل د سحر نه به د میلاد شریف آغاز کیدلو او د میلاد شریف د تقریر د پاره به څلور علماء مقرر وو. محفل شریف به د حرم شریف

په انګڼ کښې کيدلو. اول به يو امام صاحِب د ميلاد شريف خاص کرسئ باندې کښيناستلو او احاديث به ئې بيانول، بيا به دويم امام صاحب د حضور صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ولادت شريف بيان کولو، دريم امام صاحب به د رضاعت (يعني د پئيو ښنبلو د زمانے) بيان کولو او څلورم امام صاحب به د هجرت په موضوع بيان کولو. په آخره کښې به خلقو شربت ښنبلو او د بادامو حلوه به ئې ځان سره واغستله او رخصت به شول- (رسائل في تاريخ المدينه، ص٧٩ ملخصاً)

جب تلک یہ چاند تارے جھلملاتے جائیں گے
تب تلک جشنِ ولادت ہم مناتے جائیں گے

اُن کے عاشق نور کی شمعیں جلاتے جائیں گے
جب کہ حاسد دل جلاتے سٹپٹاتے جائیں گے

## نور او صرف نور

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه مونږ هم جشنِ ولادت لمانځو [يعني مناوو]، کاش چې! د نيکانو په برکت زمونږه دا کوششونه هم قبول شي. شاه ولِيُ الله مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائی: زه په مَکّه مُکرَّمه کښې د ميلاد شريف په ورځ د ولادت په مکان کښې حاضر ووم، ټولو خلقو په حضور صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود و سلام لوستلو او د حضور صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ولادت په وخت کښې چې کوم ايمان افروز واقعات ظاهر شوي وو د هغې ذکرِ خير ئې کولو ما هغه انوار اوليدل کوم چې ناڅاپه په

هغه محفل کښې ښكاره شو او زه دا نه شم وئيلے چې دغه انوار ما په ظاهري سترګو اوليدل او يا كه د روح په سترګو مې اوليدل. الله ښه پوهيږي.كله چې ما په هغه انوارو غور اوكړو نو معلومه شوه چې دا د هغه فرښتو له طرفه دي كومې چې په داسې نوراني محفلونو كښې شركت كوي او ما دا هم اوليدل چې د هغه فرښتو نه ظاهريدونكي انوار د الله پاك د رحمت د انوارو سره ميلاويږي. (فيوض الحرمين، ص۸۰)

## د ميلاد شريف ټول محفل په ولاړه اوريدونكے بوډا

ميلاد شريف كښې تعظيماً اودريدلو ته د بدعت ويوونكي يو كس يوه واقعه واورئ او عبرت حاصل كړئ: حضرتِ سَيِّدُنا عَبَّاس مالكي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې زه په بَيْتُ الْمُقَدَّس كښې د دولسم رَبِيْعُ الْاَوَّل په شپه محفلِ ميلاد شريف كښې شريك ووم، ما اوليدل چې يو بوډا د اول نه تر آخره پورې ډير په ادب و احترام سره ولاړ وو او په محفل كښې شريك وو. چا ترينه د ولاړې د سبب تپوس اوكړو نو هغه اووئيل چې ما به د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِكرِ خير په ولاړه اوريدلو ته "بدعتِ سيّئه" (يعني بد بدعت) وئيلو. يوه ورځ ما خوب اوليدو چې زه په يوه لويه اجتماع كښې يم او خلق د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم استقبال ته ولاړ دي، كله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو نو ټولو خلقو ډير په ادب و احترام سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم استقبال اوكړو، خو زه د تعظيم د پاره اُو نه دريدم. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "ته به اوس نه شې

اودریدلے." چې راويښ شوم نو اومې کتل چې دغه وخت هم ناست يم. په دې پريشانۍ کښې يو کال تير شو خو زه نه شوم اودريدلے. آخر دا چې ما دا نذر اومنلو [يعني منښته مې اوکړه] چې که الله پاك ما ته د دې مرض نه شفا راکړه نو زه به محفل ميلاد شريف د شروع نه تر آخره پورې په ولاړه اورم. د دې نذر [يعني منښتې] په برکت الله پاك ما ته شفا راکړه. بس اوس زما دا معمول جوړ شوے دے چې خپله منښته پوره کووم او د حضور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تعظيم کښې ټول **محفل** په ولاړه اورم. (الاعلام بفتاوٰی ائمۃ الاسلام، ص۵)

خوب برسیں گی جنازے پر خدا کی رحمتیں
قبر تک سرکار کی نعتیں سناتے جائیں گے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نذر داسې منۍ چې پوره کولے ئې شئ

**اے عاشقانِ رسول!** دلته چې کوم نذر منلے شوے وو دا شرعي نذر نه وو بلکه دا عُرفي نذر وو، عُرفي نذر پوره کول واجب نه دي خو کومې جائزې منښتې چې کيږي هغه پوره کول پکار وي ځکه چې په هُم دې کښې خير وي. ماشَآءَالله هغه منښته اوکړه او بيا ئې پوره کړه او الله پاك ورته شِفا ورکړه او بيا به هغه **محفلِ** مِيلاد په ولاړه اوريدلو. هسې نه چې تاسو هم په جوش کښې راشئ او داسې منښته اوکړئ ځکه چې ټول **محفل** په ولاړه اوريدل د هر چا د وس کار نه دے او که غټه اجتماع وي او تاسو د

هغې په مينځ کښې اودريږئ نو شاته ناست خلق به پريشانه شي او د کښينولو د پاره به مو رانښکارېږي او دغسې به مسائل پيدا کيږي-

ذکرِ میلاد مبارک کیسے چھوڑیں ہم بھلا　　جن کا کھاتے ہیں انہیں کے گیت گاتے جائیں گے

## شيطاني خلق

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** د سوشل ميډيا زمانه ده، بعضې نادانه خلق چې پټپله ميلاد شريف نه لمَانځي هغوئي د عاشقانو په زړونو کښې قسماقسم وسوسے پيدا کوي او د دې نيك کار نه خلق منع کوي. دا "شَيَاطِيْنُ الْاِنْس" يعني (شيطان انسان) د ګمراه کولو کوشش کوي او [د خلقو] په زړونو کښې شکونه او شُبهات پيدا کوي. ائمه دين به فرمائيل: "**شيطان انسان، د شيطان پيرې نه زيات سخت وي**" (فتاوٰی رضويه مُخرّجه، ج، ص)

**د الله پاك آخري نبي محمّدِ مدني** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت سيدنا ابو ذَر غِفاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ارشاد اوفرمائيل: **د الله** پناه غواړه د شيطانانو انسانانو او شيطانانو پيريانو د شر نه. هغوئي عرض اوکړو: آيا په انسانانو کښې هم شيطانان شته؟ اوئې فرمائيل: آو. (مسندِامام احمد، ج، ص، حديث)

**چنانچه** خومره چې ګمراه او بدمذهبه خلق دي دا ټول شَيَاطِيْنُ الْاِنْس (يعني شيطانانو انسانانو) کښې داخل دي لِهٰذا د اِبلِيس سره سره د دوئي د شر نه هم پناه غوښتل پکار دي، خو افسوس! چې ډير مسلمانان دوئي سره ښه

ډېره ناسته ولاړه کوي او د دوئي خبرې ښه په شوق اوري. د هغوئي مذهبي پروګرامونو کښې هم شريك کيږي، د هغوئي لټريچر هم ګوري، هم دا وجه ده چې د خپل دين سره د واقفيّت نه لرلو په وجه بيا په شك او شُبه کښې پريوځي چې آيا هغوئي صحيح دي که مونږه؟ او بعضې خو د هغوئي په جال کښې داسې راګير شي چې بيا د هغوئي صفتونه کوي او تر دې پورې اُووائي چې "هغوئي هم صحيح وائي"

## همدردانه مشوره

امام اهلسنّت مولانا شاه **احمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د داسې خلقو نه د بچ کيدلو په تاکيد کښې فرمائي: ورونړو! تاسو په خپله فائده او نقصان ښکپله ښه پوهيږئ که ستاسو **ربّ** او ستاسو پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! [پرې ښه پوهيږي] د هغوئي حکم خو دا دے چې که شيطان تاسو ته وسوسه اچولو د پاره راشي نو دا جواب ورکړئ چې: "ته دروغژن ئې" داسې نه چې ته ښکپله په منډه منډه د هغو (کافرو يا بے دينو او بد مذهبو) خوا ته ورشې. خلق د خپل جهالت په وجه دا ګمان کوي چې مونږ خو د زړه نه مسلمانان يُو، په مونږ باندې به د هغوئي څه اثر اوشي! حالانکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوک چې د دَجّال خبر واوري په هغه واجب دي چې د هغه نه لرې اوتښتي، قسم په خُدائے! انسان به د هغه خواه ته ځي او دا خيال به کوي چې زه خو مسلمان يم يعني ما ته به د هغه نه څه نقصان راورسي، [خو] هلته به د هغه په دهوکه کښې راشي او د هغه پيروکار [يعني

منونکے] به شي. (ابوداؤد، ج۴ص۱۵۷حدیث۴۲۶۳) آیا دجّال صرف هغه اَخبَث (یعني هغه ناپاکه ترین دجّال) ګڼړئ کوم چې به راځي. حاشا! هر قسمه ګمراهۍ طرف ته رابلونکي (یعني دعوت ورکوونکي) دا ټول دجّال دي او د دې ټولو نه ئې د لرې تښتېدلو حکم فرمائیلے دے او په دې کښې ئې هم دغه اندیښنه [یعني خطره] ښودلي ده. (فتاوٰی رضویه مخرّجه ج۲۳ص۷۲۲)

سرورِ دیں! لیجے اپنے ناتوانوں کی خبر نفس و شیطاں سیدا! کب تک دباتے جائیں گے

## د میلاد شریف نه د منع کوونکو د وسوسو جوابونه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! بعضي خلق د جَشنِ عیدِ میلادُ النَّبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم متعلّق په وسوسو کښې اخته اوسي د هغوئي د پوهه کولو د کوشش کولو د ثواب ګټلو او ساده ساده **عاشِقانِ رَسُول** د پریشانئ نه د بچ کولو په ښوښو نیّتونو یو څو سوالونه او د هغے جوابونه ذکر کیږي، که په یو ځل لوستلو سره مو تسلّي اُو نه شي نو درې ځله ئې اولولئ، اِنْ شَآءَاللّٰه خبره به مو په زړه کښې کښیني، وسوسے به مو لرې شي او د زړه اطمینان به درنصیب شي.

(1) **سوال:** په قران و حدیث کښې د میلاد شریف ذکر نشته لهٰذا میلاد کول نه دي پکار؟

**جواب:** د قران کریم نه درې دلائل واورئ! اللّٰه پاك په سورۂ آل عمران آیت نمبر 164 کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بےشکه د اللّٰه لوئ احسان اوشو په مسلمانانو باندې چې په هغوئي کښې ئې هُم د هغوئي نه يو رسول راوليږلو. |

سورۂ یونس آيت نمبر 58 کښې اِرشاد کيږي:

| | |
|---|---|
| قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَ بِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ؕ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۵۸﴾ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: ته اُووايه! هُم د اللّٰه په فَضل او د هغه په رَحمت او هُم په هغې پکار دي چې خوشالئ اوکړي، هغه د هغوئي د ټول جمع کړې دولت نه بهتر دي. |

سیپاره 30 سورۃ اَلضُّحٰی آيت نمبر 12:

| | |
|---|---|
| وَ اَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿۱۱﴾ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او د خپل رب د نعمتونو ښه اظهار اوکړئ. |

**خوږو محترمو اسلامي ورونړو!** د دې آيت نه دا معلومه شوه چې د اللّٰه پاك په فضل باندې خوشحالي کول په خپله د اللّٰه پاك حکم دے. د اللّٰه پاك د خوږ پیغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې دنيا ته تشريف راوړل د ټولو نعمتونو نه لوئ نعمت دے ځکه چې اللّٰه پاك دې ته خپل احسان وئيلے دے، او د دې نعمت چرچه [يعني اِظهار] کول هم په دې آيت عمل کول

دي، په دې دور کښې چې د چا ماشوم پيدا شي هر کال ئې سالګره کوي، په کوم تاريخ چې ملك آزاد شوے وي هر کال په هغه تاريخ جشن آزادي مناووي او جلوسونه اوځي او چې څوك په دې تنقيد کوي هغه ته د ملك غدّار وئيلے کيږي نو چې په کوم تاريخ د دوارو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې دنيا ته تشريف راوړے دے نو هغه به د ټولو نه زياته د خوشحالئ ورځ ولے نه وي؟ لهٰذا ميلاد شريف مناوول د قران په حکم عمل کول دي. آيا دا اعتراض کوونکے د رسول پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ولادت د الله پاك نعمت، فضل او رحمت نه مني يا ميلاد شريف بيانول نعمتِ الٰهي او د هغه د فضل او رحمت خوشحالي نه ګڼري يا دِ هغه دا اوښائي چې په قران و حديث کښې محفلِ ميلاد منع دے؟؟؟

خاک ہو جائیں عدو جل کر مگر ہم تو رضا　　دم میں جب تک دم ہے ذکر ان کا سناتے جائیں گے

(2)**سوال**: صحابه کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم کله ميلاد شريف نه دے مناو کړے نو آيا تاسو د هغوئي نه زيات عاشقان ئې؟

**جواب**: د قران کريم نه پس د ټولو نه زيات قابلِ اعتماد کتاب "**صحيح بخاري**" دے او دا کتاب تقريباً ټول مسلمانان مني، امام بخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د هر حديث ليکلو نه مخکښې غُسل کولو او دوه رکعته لمُونځ به ئې کولو. (نزهة القاری،۳۱، فرید بُک سٹال لاهور)

حالانکه د صحابه کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم په باره کښې داسې روايت نه ملاويږي چې هغوئي به د حديث پاك بيانولو نه مخکښې غسل کولو او دوه

رکعته لمُونځ به ئې کولو نو ولے اوس به څوک دا اعتراض کوي چې ولے امام بخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ګنې د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم نه زيات عاشقِ رسول دے؟ يا د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په زړه کښې د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم نه زيات د حديثونو ادب وو؟ **نور واورئ!** د کروړاؤ مالکيانو عظيم پيشوا **حضرت** سيدنا امام مالك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د مدينے مُنَوَّرے په کوڅو کښې ښپې ابله ښپې ګرځيدلو او د مدينے مُنَوَّرے د خاورې د تعظيم په وجه به ئې په مدينه منوّره کښې قضائے حاجت نه کولو، د دې د پاره به ئې هميشه د مدينے مُنَوَّرے د حرم نه بهر ته تشريف وړلو، البتّه د مرض په حالت کښې به مجبوره وو. (بستان المحدّثين ص۱۹) نو ولے اوس به څوک دا وائي چې ګنې امام مالك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم نه زيات عاشق رسول وو؟ هيڅ کله هم نه، په قران کريم کښې اصول بيان شوي دي او هغه دا دي: وَتُعَزِّرُوۡهُ وَتُوَقِّرُوۡهُ [مَفهُوم]ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او د رسول تعظيم او توقير اوکړئ" د دې آيت کريمه په تفسير کښې مفسّرينو فرمائيلي دي چې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعظيم چې کومه طريقه هم رائج وي او د شريعت خلاف نه وي هغه په دې آيت کښې داخله ده، په دې کښې د تعظيم او توقير د پاره څه قيد نه دے بيان شوے، هغه که په ولاړه صلوٰة و سلام وئيل وي يا که د تعظيم بله څه طريقه وي، د سردارِ دوجهان صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هر هغه تعظيم چې د شريعت خلاف نه وي، هغه به کيږي. (صراط الجنان۹) بے شميره داسې کارونه کيږي چې د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم او تابعينو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ په دور کښې نه وو خو په دين کښې جاري دي

او هغه کارونه د جشنِ میلاد نه منع کوونکي خلق هم کوي لکه د درسِ نظامي مُرَوَّجَه کورس، مُرَوَّجَه مدرسو کښې د حفظ و ناظرے جدا جدا کلاسونه، په تنخواه باندې استاد نیول او د دې تنخواه د پاره چنده کول، افتتاح بخاري، ختمِ بخاري بلکه بخاري شریف پخپله د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم، تابعینو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ او تبع تابعینو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ د زمانے نه ډیر وروستو لیکلے شوے دے، د هوائي جهاز په ذریعه د حج او عمرے سفر کول وغیره په زرګاؤ دیني کارونه دي چې کیږي، څوك هم د دې نه منع نه کوي. خو دا د خپل خپل نصیب خبره ده د چا چې د چا سره محبت وي نو هغه ډیر ډیر یادوي خپل کوروته ښائسته کوي او بعضې خلق حیلے او بهانے جوړوي او خپل زړه خوري.

جوں ہی آمد ماہِ میلادِ مبارک کی ہوئی
اہلِ ایماں جھوم اٹھے شیطاں کو غصہ آیا ہے
ہر ملک ہے شادماں خوش آج ہر اک حور ہے
ہاں! مگر شیطان مع رفقا بڑا رنجور ہے

(3)**سوال**: په اسلام کښې صرف د دوو اخترونو ذکر دے، لهٰذا عید میلاد النّبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مناوول نه دي پکار؟

جواب: صِحاحِ سِتّه (یعني د حدیثونو شپږو مشهورو کتابونو) کښې دي چې د الله رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي چې: جمعه د **اختر ورځ** ده په دې حساب سره خو په کال کښې زیات و کم 48 اخترونه جوړ شو او عید الفطر او عید الاضحیٰ چې ورسره یو ځائے کړې نو **50** اخترونه شول، دا ټول اخترونه چې مونږ ته د چا په برکت نصیب شوي دي هغه **دولسم**

”رَبِیعُ الْاَوَّل شریف“ دے، اَلْحَمْدُلِلّٰہ دا د عاشقان رسول د پاره د اخترونو اختر دے ځکه چې که نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دنيا ته تشريف نه وے راوړے نو نه به کوم اختر وے او نه به کومه شپه شبِ براءَت وے. د ټول جهان دا رونق او ښائست د الله پاك د آخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ښپو د خاورو صدقه ده. په حديث پاك كښې دي: (الله فرمائي) اے زما حبيبه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما دا دنيا او د دنيا دا خلق ځکه پيدا کړل چې کوم عزّت و منزلت ستا زما په نزد دے چې هغه دوئي ته ورښکاره کړم او **اے زما حبيبه که چرې ته نه وے نو ما به دا دنيا نه وے پيدا کړے.** (لمعات التنقیح، المواهب اللدنيه، ج، ص)

وہ جو نہ تھے تو کچھ نہ تھا وہ جو نہ ہوں تو کچھ نہ ہو

جان ہیں وہ جہان کی جان ہے تو جہان ہے

(4) سوال: دولسم رَبِیعُ الْاَوَّل د ولادت شريف ورځ نه ده، په دې کښې اختلاف دے او دا په فتاوٰی رَضَوِيَّه کښې هم دي، لهٰذا په دولسم رَبِیعُ الْاَوَّل باندې جشنِ ميلاد النّبي مناوول نه دي پکار.

جواب: د دې سوال يو جواب خو دا دے چې په فتاوٰی رَضَوِيَّه کښې اعلیٰ حضرت امام اهلسنّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ډير زيات مشهور، اخذ شوے او مُعتبر دولسم رَبِیعُ الْاَوَّل دے. (يعني ډير زيات مشهور، قابلِ اعتبار او مقبول دولسم رَبِیعُ الْاَوَّل دے.) (فتاوٰی رضويه)

دويم جواب دا دے چې خير دے كه تاسو په دولسم رَبِيعُ الْاَوَّل ميلاد شريف نه مناووئ نو بل تاريخ ورله مقرر كړئ لكه دويم ، اتم يا لسم رَبِيعُ الْاَوَّل او بنه په جوش او جذبه د ميلاد اهتمام كوئ.

| | | |
|---|---|---|
| جھوم کر سارے خوشی سے بار بار | | مرحبا مصطفی فرمایئے |
| یا رسول اللہ کہئے زور سے | | شق جگر ابلیس کا فرمایئے |

(5) **سوال:** په دولسم رَبِيعُ الْاَوَّل جلوس ويستل بدعت دے او هر بدعت ګمراهي ده او جهنّم طرف ته بوتلونكي ده، لهٰذا جلوس ويستل او په دې كښې تلل ناجائز دي؟

جواب: زما ساده ساده خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د "بِدعَت" مطلب دے نوے كار، څنګه چې هر نوے كار بد نه وي دغه شان هر بدعت هم بد نه وي، بلكه چې كوم نوے كار د قرآن و سنّت خلاف وي هغې ته بِدعتِ سَيِّئَه يعني بد بدعت وائي، حديث پاك كښې دي "كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ" د دې نه مراد بد بدعت دے، چې كوم نوے كار د قران و حديث، آثارِ صحابه يا اجماعِ امّت خلاف نه وي هغه بد نه دے. لكه د تراويح لمونځ په جَمعه سره ادا كول چې تقريباً په هر جمات كښې كيږي، دې ته خو پخپله حضرتِ سيدنا عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بنه بدعت وئيلے دے. بعضې بدعتونه مُسْتَحَب بلكه واجب وي.

د نن نه تقريباً پينځه سوه كاله مخكښې ليكلې شوي كتاب "عَيْنُ الْعلم" كښې دي چې د كوم څيز د شروع نه منع نه وي راغلې، د صحابه او تابعينو

د زمانے نه پس جاري شوے وي په هغے کښې د مُوافقت کولو [يعني شريک کيدلو] په ذريعه د مسلمانانو زړونه خوشحالول بهتر دي ګکر که هغه څيز بدعت (يعني نوے کار) هم وي، په دې باندې دليل هغه حديث دے کوم چې حضرت سَيِّدُنا عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه روايت کړے دے او پخپله د هغوئي د قول نه هُم مروي دي چې مسلمان کوم څيز ښه ګڼړي هغه د الله په نزد هم ښه دے.
(عين العلم، پريس لاهور ص)

تقريباً څلور نيم سوه کاله پخواني بزرګ حضرت سيدنا عَلّامه اِبنِ حَجَر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د بدعت حسنه (يعني هغه نيك کار کوم چې د قران و حديث خلاف نه وي د هغې) په مُسۡتَحَب کيدلو باندې اتفاق دے د ميلاد شريف محفل کول د دې د پاره خلق راجمع کول د هُم دې قِسم نه دي. (يعني د ميلاد شريف محفل کول مستحب، ښه او نيك کار دے)-

(انسان العيون، المکتبة الاسلاميه بيروت)

حضرت مولانا علي شامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د دې نه به انکار هغه سړے کوي د چا په زړه چې الله مهر لګولے وي. (فتاوٰي رضويه، رضا فاؤنډيشن)

لاکھ شیطاں ہم کو روکے فضلِ رب سے تا ابد
جشن آقا کی ولادت کا مناتے جائیں گے

**(6)** **سوال:** تير شوي بزرګانو د ميلاد شريف متعلق څه نه دي وئيلي لهذا ميلاد شريف کول نه دي پکار؟

جواب: کم از کم د نن نه د پينځه سوه کاله مخکښې تيرو شوو بزرګانو متعلق يو څو ارشادات اولولئ: د نن نه تقريباً اته نيم سوه کاله مخکښې تير شوي بزرګ حضرت سيدنا علّامه عبدالرّحمٰن ابن جَوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو کتاب په نامه د "مَولِدُ العُرُوس" ليکلے دے چې د هغې روايت مخکښې صفحو کښې تير شو، فرمائي: څوك چې د ميلاد شريف محفل کوي هغه ته به برکت، عزّت، خير او فخر حاصليږي هغه ته به د ملغلرو عمامه په سر کړے شي او جنّت ته به داخل شي- (مولدالعروس، ص۱۱)

923 هجري کښې (يعني تقريباً پينځه سوه کاله مخکښې) تير شوي يو عظيم بزرګ امام احمد بن محمّد قسطلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت په مياشت کښې هميشه مسلمانان محفل ميلاد کوي او د ولادت په خوشحالئ کښې دعوتونه کوي خوراکونه پخوي او ډيرې صدقے او خيراتونه کوي د خوشحالئ اظهار کوي، د زړه د اِخلاصه خرچ کوي او ورسره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادت با سعادت د ذکر اهتمام هُم کوي چنانچه په دوئي باندې د الله پاك ډير لوئ فضل وي او برکتونه پرې نازليږي د ميلاد شريف محفل کولو سره د زړه مرادونه پورا کيږي، الله پاك دِ په هغه خلقو باندې خپل رحمتونه نازل کړي چا چې د ولادت شريف شپے [او ورځې] اختر (يعني د خوشحالئ ورځې) جوړې کړې.

(بيا فرمائي:) د ميلاد شريف خوشحالي د هغه چا د پاره سخت مصيبت وي د چا په زړه کښې چې بيماري او عناد [يعني پټه دُښمني] وي.

(زرقاني علی المواهب ۱/۲۶۲، بيروت)

حضرت سَیِّدُنا امام ابو شامَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (دا د امام نووَي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه استاذ دے) فرمائي: زمونږ په زمانه کښې چې کوم خلق نوي کارونه کوي هغه دا دي چې خلق د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ميلاد شريف په ورځ باندې صدقے او خيراتونه کوي د خوشحالئ اظهار کولو د پاره خپل کورونه او کوځے ښائسته کوي ځکه چې په دې کښې ډيرې فائدے دي، د ټولو نه غټه خبره دا ده چې الله پاك خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيدا کړو او رَحۡمَةٌ لِّلۡعٰلَمِيۡن جوړ کړے ئي را اوليږلو دا د هغه په خپلو بندګانو باندې ډير لوئ احسان دے، او د هغې د شکر ادا کولو د پاره خلق د خوشحالئ اظهار کوي. (السّيرة الحلبيه۱۸)

| | | |
|---|---|---|
| جو کہ جلتے ہیں ذکر مولد سے | | کر عطا ان کو تو سقر یا رب |

(7)سوال: د دولسم رَبِيعُ الۡاَوَّل په شپو کښې د ډير زيات لائټنګ [يعني رنړاګانو] په وجه اِسراف کيږي که دا رقم په غريبانانو باندې تقسيم کړے شي نو څومره به ښه وي؟

جواب: د ټولو نه اوّل دا قاعده په ذهن کښې کښينوئ چې علمائے کرام فرمائي: لَا خَيۡرَ فِي الۡاِسۡرَافِ وَلَا اِسۡرَافَ فِي الۡخَيۡرِ يعني په اِسراف کښې څه خير نشته او د خير په کارونو کښې خرچ کولو کښې هيڅ اِسراف نشته. عظيم تابعي بزرګ حضرت سَيِّدُنا امام مجاهد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که څوك د الله پاك په اطاعت کښې د اُحد د غر هُومره مال هم خرچ کړي نو بيا به هم هغه د اسراف کوونکو نه وي- (حلية الاولياء۳۳دارالکتب العلميه بيروت)

پاس بیان شوو روایاتو نه دا خبره ثابته شوه چې د جشن ولادت محفل کول د نیکۍ او ثواب کار دے د ثواب په کار کښې چې څومره ډیر مال خرچ کړے شي کم دے، اسراف نه دے. د یو خبر مطابق هر کال د **20** ملین نه واخله تر **25** ملینه ریاله باندې د کعبے شریفې غلاف تیاریږي؟ په ودونو او نورو ښادو باندې کروړونه روپۍ خرچ کیږي څوك دِ ورشي او دوئي دِ پوهه کړي چې دلته د خرچ کولو په ځائے دا رقم په غریبانانو باندې تقسیم کړۍ نو پته به ورته اولګي، بلکه ځپله د خپل کور ډیکوریشن او نوي ماډل ګاډي، موبائل وغیره ته فِکر اوکړۍ، پکار ده چې دا په غریبانانو باندې خرچ کړۍ او د یو څو زرو روپو موټر سائیکل او موبائل واخلۍ او دغسې غریبانانو سره ښیګړه اوکړۍ- د دي نه علاوه ډیر داسې کارونه کیږي چې په هغې اربونه، کروړونه روپۍ خرچ کیږي خو د هغې نه څوك هم منع نه کوي، یو څو ورځې مخکښې د کرونا وائرس په وجه د کیدونکي لاك ډاؤن په ورځو کښې په سوشل میډیا باندې یو پوسټ وائرل شو چې **اوګورئ! په غریبانانو باندې راشن هم هغه خلق تقسیموي څوك چې په جشنِ ولادت کښې رقم خرچ کوي-** خیر د غریبانانو مدد هم کوۍ او جشنِ ولادت هم کوۍ آخر صرف د جشن ولادت په موقع باندې دا وسوسه ولے راځي، چرته خبره څه بله خو نه ده؟ نفسِ اَمّاره او شیطان باندې **لاحول ولاقوۃ** پوك کړۍ او د مرحبا یا مصطفٰی نعره اولګوۍ او شیطان لرې اوزغلوۍ او په زور او شور سره جشنِ ولادت مناو کړۍ-

| گھر گھر کرو چراغاں کہ سرکار آگئے | | لہراؤ سبز پرچم اے آقا کے عاشقو! |
|---|---|---|

# رنړاګانې ئې چې اوليدلې نو کافر اسلام قبول کړو

د جشن ولادت رنړاګانو په څه وائې. د يو اسلامي ورور بيان دے چې يوځل مونږه د جشنِ ولادت په موقع باندې جمات په لائټونو وغيره ښائسته کړے وو، يو غير مسلمه د جمات په خواه تيريدلو، هغه د جمات د ښائسته کولو په باره کښې تپوس اوکړو، چې هغه ته اووئيلے شو چې مونږه د خپل نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت په خوشحالئ کښې دا لائټونه لګولي دي، نو د هغه په زړه کښې د نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير زيات عظمت پيدا شو چې اوګورئ د ولادت 1500 کاله اوشو او د دې باوجود مسلمانان د خپل نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جَشنِ وِلاَدَت په دومره شان و شوکت سره مناوهي او خپل جماتونه او کورونه داسې ښائسته کوي نو بس هُم دا ريښتونے دين دے، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه هغه د کفر نه توبه اوکړه، کلمه ئې اووئيله او مسلمان شو

يارسول اللہ کا نعرہ لگاؤ زور سے

ان کے دشمن منہ چھپاتے بڑبڑاتے جائیں گے

په حديث شريف کښې دي: نبي کريم، سيِّدُ الۡمُرسَلِين صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ”چا چې په اسلام کښې نيکه طريقه راويستله هغه ته به د هغې طريقے راويستلو هُم ثواب ميلاويږي او په هغې باندې د عمل کوونکو ثواب به هُم ورته ميلاويږي او د عمل کوونکو په خپل ثواب

کنبي به هيڅ کمے نه کيږي او چا چې په اسلام کنبي بده طريقه راويستله په هغه باندې به د هغې طريقے راويستلو هُم ګناه وي او په هغه طريقه باندې د عمل کوونڪو ګناه به هم په هغه وي او د هغه عمل کوونڪو په خپله ګناه کنبي به هيڅ کمے نه کيږي. (مسلم، کتاب الزکاة، ص[illegible]، الحديث[illegible])

(8) سوال: د دولسم رَبِيعُ الْاَوَّل د لائټنګ د پاره د بجلئ غلا کيږي او په ډير اوچت آواز باندې د نعتونو چلولو په وجه خلقو ته تڪليف کيږي او لنګر د تقسيمولو د پاره داسې شيندلے کيږي چې د هغې په وجه د رزق بے حرمتي کيږي. ځکه جشنِ عيد ميلاد النّبي مناوول نه دي پڪار.

جواب: يو اُصول په ذهن کنبي کيږدئ که په پوزه باندې مچ کنبيني نو مچ پاڅوي پوزه نه کټ کوي. تاسو دا اووائې چې عَين د شريعت مطابق واده چرته کيږي؟ خو يو چا هم دا اُو نه وئيل چې د واده کولو په وجه ډير ګناهونه کيږي واده کول پريږدئ. د جشنِ آزادئ په ورځ ثومره ګناهونه کيږي خو يو چا هم دا اُو نه وئيل چې د جشن آزادئ خوشحالي مه کوئ، آخر د جشنِ عيد ميلاد النّبي نه څوک ولے دومره پريشانه کيږي؟ چرته مسئله څه بله خو نه ده؟؟؟-

منائیں گے خوشی ہم حشر تک جشنِ ولادت کی
سجاوٹ اور کرناروشنی ہر گز نہ چھوڑیں گے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د مابنام د لمانځه نه پس ستاسو په علاقے کښې کیدونکې د دعوتِ اسلامي د سُنَّتُو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنَّتُو د تربیَّت د پاره مَدَنِي قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل علاقے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَنِي انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَنِي قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداگران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com